# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| ادبی - فرهنگی | Literary - Cultural |
| --- | --- |



محمد هارون خپل شعشعی


۲۴ فبروری ۲۰۱۲

## د « سټګفلېشن » اقتصادي او ژبني اړخونه

دا اصطلاح مو کله اروېدلې ده؟ که مو اروېدلي ده، ایا په مانا، لغوي جوړښت او رېښه يې پوه سوي یاست؟ باور لرم، چي زموږ اقتصاد پوهان به هرومرو په دې باره کې پوره او هر اړخیز مالومات لري؛ ځکه د اقتصادي علومو په نوو کتابو کې په دې اړه ډېر څه راغلي دي؛ خو ما غوندي عامو کسانوته به ښايي تر اوسه لا نوې او نا اشنا يي( وي) . د نوي والي يا نا اشنایی لوی علت يې هم دا کېدای سي، چي دا اصطلاح پر داسي اقتصادي حالاتو دلالت کيي( کوي)، چي هره ورځ، هره میاشت او حتا هر کال نه پېښيږي . تر هغه وروسته، چي په ۲۰۰۸ع کال کي د لوېديځي نړی مالي او اقتصادي نظام له لوی او بې ساري بحران سره مخامخ سو، په زیاترو اقتصادي څېړنو او خبرونوکي ددې اصطلاح یادونه هم خورا ډېره لیدل کيږي . کله چي مي اوله پلا په انګرېزي میډیا کي واروېدله، په مانا يې پوه نسوم؛ مګر په وینګ کي مي تر غوږو ډېره شناخته او اشنا و برېښېدله . د مانا تر څېړني او پلټني وروسته پوه سوم، چي سټګفلېشن (stagflation) په واقعیت کي هغه ترکيبي ټکی دئ، چي د سټګنېشن (stagnation) او اینفلېشن (inflation) له يو ځای کولو څخه جوړ سوئ دئ؛ او دا دوه هغه ټکي وه، چي له پخواڅخه مي غوږونه ورسره اشنا وه . مخکي تر دې چي د« سټګفلېشن » په باب څو نوري خبري وکو، بې ګټي نه ده، چي د« سټګنېشن » او « اینفلېشن » په اقتصادي اصطلاحاتو هم څه نا څه سر خلاص کو. سټګنېشن یا سټګناسیون ( رکود، کساد، درېدل، سوړبازاري) په اقتصادي لحاظ د تجارتي معاملو او فعالیتو نسته والي يا په کال کي تر یوه فیصدکمي ودي ته وايي[۱]؛ او انیفلېشن یا انفلاسیون ( پاړسوب) له اقتصادي پلوه د شیانو په بيو یا قیمتو کي دعمومي او پرمختلونکي لوړوالي په مانا دئ، چي د تجارتي کالو( امتعو) د ارزښت د زیاتوالي او د پیسو د ارزښت د کموالي له کبله پېښيږي[۲] .

لکه څنګه چي مخکي اشاره وسوه« سټګفلېشن » د « سټګنېشن » او « اینفلېشن » له یوځای کېدو یا امتزاج څخه جوړ سوئ دئ؛ او په یوازيتوب سره يې د دواړو ځانګړتیاوي او خصوصیتونه رانغښتي دي؛ ځکه په دې دوره کي له یوې خوا اقتصادي وده کمزوري کيږي؛ او وزګارتیا یا بېکاري زیاتيږي؛ او له بلي خوا د شیانو په بيو کي لوړوالی راځي[۳] . د اقتصادي ودي کمښت او د بېکاری ډېرښت دواړي د «سټګنېشن» یا «سټنګناسیون» نخښي

دي؛ حال دا چي د تجارتي کالو د بيو زياتېدل د «اينفلېشن» يا «اينفلاسيون» اساسي ځانګړتيا ده . د «سټګفلېشن» اقتصادي اصطلاح له تاريخي پلوه ډېر عمر نه لري . اول وار په ۱۹۶۵ع کال د انګلستان د پارلمان د محافظه کارغړي، وروسته ماليه وزير - اِيين ميکلاوډ (Ian Macleod) له خوا د هغه مهال د واکمن حکومت د اقتصادي سياست د کړلو په مقصد، پارلمان ته د وينا په ترڅ کي استعمال سوه؛ او له هغه وخته تر اوسه د يوې پخې او علمي اصطلاح په توګه کارېږي۴.

د «سټګفلېشن» دې په زړه پوري اصطلاح پر خپل پراخ اقتصادي مفهوم سربېره، په انګليسي، پښتو او پارسي کي د بېلابېلو ټکو د امتزاج او ترخيم دود ته متوجه کړم، چي نن يې په دې لنډه مقاله کي ستاسي درانه حضور ته وړاندي کوم .

په انګليسي ژبه کي له دوو يا څو کليمو څخه د يوې نوي کليمي جوړولو ته بلينډينګ (blending) وايي؛او هغونوو ټکوته د فرانسوي ژبي پورټمنټو/ پورټمينټو (portmanteau / portmantean) کليمه استعماليي، چي په دې طريقه جوړيږي . په بله وينا، پورټمنټو/ پورټمينټو هغه ټکي دي، چي د دوو بېلو ټکو د ځينو برخو يا ځينو تورو له يو ځای کولو څخه لاس ته راځي؛ او په يوازيتوب سره د دواړو يو ځای سوو ټکو ماناوي ښندي . له همدې اسيته نو دغه راز ټکوته د انګرېزانو په دود په يوه کي دوه (two in one) نوم هم ورکولای سو؛ ځکه په هر پورټمنټو/ پورټمينټوکي د دوو بېلو ټکو ماناوي نغښتي دي .

لکه څنګه چي موږ «سټګفلېشن» په مثال کي وليدل، په دغه ډول يو ځای سوو ټکوکي د ژبي پخوانی يا مستعملي کليمي د يونوي مفهوم د بيانولو دپاره سره يو ځای کيږي . دا نوي لغتونه، عبارتونه او اصطلاحات وروسته د ژبي د لغوي زېرمي نه بېلېدونکي برخه ګرځي . په دې چي خلګ له اوږدوکلو، بلکي پېرييو راهيسي د بېلابېلو مرکبو ټکو له متشکله برخو سره اشنائي لري، ځکه يې نوبه پېژندنه کي هم له لويو او خاصوپېچومو سره نه مخامخ کيږي. همدا شناخت او اشنايي سَوکه سَوکه په خلګو کي د هغو و منلو او رواجولو ته لار هواريي .

د پورټمنټولړۍ له نورو سياسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي بدلونو سره ګام په ګام پر مخ درومي .

څو ورځي مخکي مي په انګرېزي ميډيا کي د ميرکوزي (Merkozy) نوی پورټمنټو واورېدئ، چي فرانسوي مطبوعاتو د اوروپا د روان مالي کړکېچ د حلولو په مقصد د المان د صدراعظمي/ حکومتمشري - انګيلا ميرکل (Angela Merkel) او د فرانسي د جمهور رييس / دولتمشر - نيکلا سرکوزي(Nicolas Sarkozy) د نيژدو او مزبوتو سياسي اړيکو د څرګندوني په خاطر جوړ کئ؛ او دادئ نن پر فرانسي او جرمني سربېره د نړۍ په مطبوعاتو کي هم پورته وکښته کيږي . د«ميرکوزي» اصطلاح که د اوروپايي اتحاديي د تاريخ په اوسني کړکېچن پړاو کي د جرمني- فرانسي د دولتي او حکومتي مشرانو وخاصو سياسي- اقتصادي همکارييوته اشاره ده، د لغتپوهني په لحاظ د اورپايي ژبو د خوځښت او چټک پرمختګ په مانا ده . په دې ژبو کي د اوږدو، پېچلو او بې خونده مفاهيمو د لنډوالي، سادګی او اسانی دپاره تل له بېلابېلو لارو چارو څخه کار اخلي؛ او په دې کار کي د ژبپوهانو تر څنګ د ټولني ټول وګړي، واړه او زاړه، پراخه او ارزښتناکه ونډه لري . په انګرېزي کي د پورټمنټو څو نور مثالونه :

هغه خواړه، چي ځانښت مهال خوړل کيږي(brunch) = غرمنۍ ډوډۍ (lunch) + ناری/ نهاری (breakfast)

(Chunnel) = تونل/ ټنل(tunnel)+ کانال يا مجرا(channel)

«چنل» درېل هغه تونل ته وايي، چي په ۱۹۹۴ع کال د انګلستان او فرانسي د موښلولو په خاطر تر انګليسي کانال يا مجرا لاندي جوړ سو۵.

(dawk) = باز، شاهين (hawk) + کوتره(dove)

هغه ځوک، چي د کوتري (سوله ييز ) او باز (جنګي) خويونه ولري .

(motel) = هوټل (hotel)+ موټر(motor)

«موټل» هغه هوټل ته وايي، چي مساپرو ته پر استوګنځی سربېره د موټر درولو وړيا ځای هم ورکيي .

څوان سرکوزی يا خوک (shoat) = وزګړی (goat) + پسه (sheep)

هغه ګرز ، چي له دود يا لوګي سره يو ځای يي (smog) = ګرز، خوپ (fog) + دود يا لوګی (smoke)

د خوړولو دپاره کاچوغه او پنجه (spork) = پنجه (fork)+ کاچوغه (spoon)

په پښتو او دري کي هم له ډېرو پخوا زمانو څخه د بېلابېلو ټکو د پيوندولو او امتزاج دود و دستور لرو؛ مثلاً په پښتو کي خداخه (خدای خبر دئ)، خـــدابشکه (خدای شه پوهيږي که)، نـــبخه (نه يم خبر) او په پارسي کي مچـم (من، چه، ميدانم)، خـــدام (خدا، ميداند) له دې ډلي څخه دي، چي د بېلابېلو کليمو د ځينو برخو پر يو ځای کېدو يا امتزاج سربېره د لنډولو او ترخيم (shortening/curtailment) نخښي هم پکښي ګورو . **البته، د نوو ترکيبي ټکو دا ډول جوړول له هغو مرکبو ټکو څخه فرق لري، چي دوې بېلي کليمي د نوي مانا او مفهوم بيان دپاره سره يو ځای کيږي يا يوه خپلواکه کليمه (base) د مخوندي او شاوندي يا پيشوند او پسوند په بڼه له يوه يا څو اشتقاقي عناصرو سره يو ځای کيږي؛ او له دې لاري يي نوي ټکي جوړ کړي يي؛ لکه په انګرېزي کي** (blackboard)،(teapot) ، (impossibility)، (unlikely) او داسي نور يا په پښتو کي کـــوروندانه **(کور+ ودانه)، خواتوری (خواه+ توری)، ناسم (نـــا+ ســـم)، اتـــلواله (اتـــل + والـــه)،زړورتـــيا (زړور+ تيـــا)، ميـــنه ناک (مينه + ناک) او داسي نور يا په پارسي کي خودجوش( خود+ جوش) ، دلخراش (دل + خراش)، خاطـــر خواه( خاطـــر + خواه)، دانشګاه( دانش + ګاه)، دانشکده ( دانش + کده)، فرهنګستان ( فرهنګ + ستان)، نارسايی (نا+ رسايی)، ګلزار (ګل + زار)، معجزه آسا (معجزه + آسا) او داسي نور .**

مالومېږي، چي د مسقلو کليمو يا يوې مستقلي کليمي او ډول ډول اشتقاقي عناصرو د يو ځای کېدو له لاري د نوو ټکو جوړول چندان ستونزمن او مشکل کار نه دئ . په دغه راز پيوستون او يووالي کي د يو ځای سوو ټکو په شکلي جوړښت کي لوی بدلونونه، نه پيښيږي . ښايي له همدې وجي يي خلګ په اسانی منلو او دودولو ته غاړه ايږدي؛ خو د هغو مرکبو ټکو بابول څه نا څه ګرانه خبره ده، چي د يو ځای سوو کليمو په ظاهري جوړښت کي (کي يي) پر يو ځای کېدو سربېره د لنډولو يا ترخيم عمليه هم ګورو. ښايي د همدې ستونزمنو شکلي بدلونوله امله په پښتو او پارسي کي د داسي مرکبو ټکو شمېر ډېر لږ دئ . په انګرېزي او نورو اورووپايي ژبو کي د سياسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي ژوند د پرله پسي تحرک او پر مختګ پر اساس تل د نوو ټکو هرکلی کيږي؛ خو په افغانستان غوندي دودپالو ټولنو کي خلګ په يوه اسانی د نوو ټکو و منلو او رواجولو ته زړونه نه ښه کيي .که په موږ کي هم سياسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي راشه درشه، په تېره بيا تعليم، تحصيل، ميديا، سپورټ او سوداګري پرمختګ وکي، بيا نو موږ هم په ژبه کي د دغه راز نوو ټکو له جوړولو او رواجولو څخه هيڅ چاره نه لرو. دا ډول نوي ټکي د خلګو لغوي استعداد ته وده ورکيي؛ اوپه نتيجه کي د ژبي لغوي زېرمه پراختيا مومي . د بېلابېلو مفاهيمو د بيان او افادي دپاره په دغه راز مرکبو ټکو کي له متضادو، متقاربو او اړوندو ټکو څخه کار اخيستلای سو؛ خو په دې برخه کي تر ټولو مهمه خبره دا ده، چي خپل نوي ايجادات بايد هيڅکله د قرآن کريم ونه ګڼو، بلکي خلګو ته  په پوره ازادی حق ورکو، چي د هغو د اسانی، پوخوالي او ښکلاپه باره کي د نظر څرګندولو او چاڼ کولو واک ولري .

لکه ځنګه چي پخوانیيو نسلو د اوړدو مفاهیمو د لنډ بیان د پاره «نېخه»، «خداښکه»، «خدام»،«مچم» او داسي نور ټکي باب کړه، موږ  هم کولای سو په دې لار کي تر خپله وسه دم وقدم و وهو. ښايي په کلو او بانډوکي د دغه راز مرکبو ټکو د ځینو نورو بولګو او مثالو ځرک هم و موو، چي باید په ډېر غَوَر او دقت يي را ټول  او جال کو .  د دې تر ځنګ باید د نورو مرکبو ټکو و جوړولو ته هم لاس تر زني کښني ننو . د لیکني په پای کي فقط د مثال او نمونې په ډول د ځینو مرکبو ټکو یادونه کوو:

شتي ( شیدي او مستي) : شتي مو له خپله کوره دي .

ګاق ( ګاز و برق) : درین اواخر قیمت های ګاق بسیار بلند رفته است .

مېکی ( مېز او چوکی) : په کورکي مېکی ته اړتیا لرو.

دېګسه ( دېګ او کاسه) : غلو دېګسه هم را پري نښوول .

کلو( کله پلو) : این بار برای مهمانها کلو پخته ایم .

ملو( مرغ پلو) : ملوِ تان بسیار خوش مزه بود.

ساک ( د پیوند سوي سېب او ناک پیداوار) : ساک ما امسال بسیار حاصل دا ده است .

ماک ( د پیوند سوي مڼي او ناک پیداوار) : ماک تر منو او ناکو ډېر حاصل ورکيي .

ماتره ( د پیوند سوي مالټي او چوکتري  پیداوار) :  په ماتره کي د مالټي خوږوالی نسته .

راوېزون ( رادیو+ تلویزون)

بادران ( باد او باران)

واران ( واوره او باران)

پمور( پلار او مور)

خادر( خواهر و برادر) او داسي نور .

یادښتونه او ماخذونه

1. http://www.thefreedictionary.com/stagnation; http://www.websters-online-dictionary.org/definitions/stagnation

2. http://www.thefreedictionary.com/inflation; http://www.websters-online-dictionary.org/definitions/inflation

3. http://www.thefreedictionary.com/stagflation; http://www.websters-online-dictionary.org/definitions/stagflation

4. http://www.etymonline.com/index.php?allowed_in_frame=0&search=stagflation&searchmode=

۵. انګرېزان د انګلستان او فرانسي تر منځ اوبه د اینګلیش چنل (English Channel) په نامه یادیي .